# د قلندر مومند په غزل کښې مزاحمت

مختیار احمد شاهین



د نړۍ د نورو ژبو د شاعرۍ په شان د پښتو شاعرۍ هم ډېر صنفونه دي، لکه چاربېته، نیمکۍ، لوبه، مثنوي، قطعه، قصیده، مرثیه، رباعي وغېره. په دغه صنفونو کښې یو غزل هم دے چې د پښتو شاعرۍ نهٔ صرف "مقبول" صنف دے، بلکې په ډېرو حوالو د پښتو شاعرۍ یو "بهترین" صنف هم دے.

د پښتو شاعرۍ صنف "نظم" هم د نظر انداز کولو نهٔ دے، په نظم کښې هم ډېره لویه، د اعلي پایې سنجیده شاعري شوې ده خو غزل د احساساتو، جذباتو، خیالاتو، تصوراتو، تهذیب، تاریخ، ذهني کېفیاتو یوه ښکلې آئینه ده او پښتو ادب کښې چې څومره غزل لیکلے کیږي، دومره بل یو صنف نهٔ تخلیق کېږي چې مثال ئې د پښتو چاپ کتابونه، رسالې او ورځپاڼې دي.

د پښتو ژبې داسې یو شاعر به نهٔ وي چې غزل به ئې نهٔ وي لیکلے، د پښتو هاغه شاعران چې بحېثیت "نظم گو" شهرت لري هغوي هم غزل لیکلے دے او دا د غزل د هر دلعزیزۍ یو لوئے ثبوت او مضبوطه حواله ده.

کېدے شي چې شروع شروع کښې غزل د عشقیه جذباتو او خیالاتو ترجمان ؤ، ولې د غزل تاریخ دا ښائي چې غزل کښې د ژوند د هر اړخ عکاسي شوې ده چې حوالې ئې د خوشحال بابا او رحمان بابا غزلې دي.

قلندر مومند د پښتنو د جدیدې شاعرۍ نظم، غزل یو څرګند، دروند او اهم نوم دے کهٔ د دغه

زنځير نه د قلندر مومند کړې لرې کړے شي نو د پښتو غزل، نظم به يقيناً غريب شي، د قلندر مومند شاعري هم هر اړخيزه ده. د ژوند سره تړلي مسئلې د هغهٔ د شاعرۍ موضوعات دي. قلندر صېب په افسانه کښې منفرد مقام لري. په تحقيق کښې لوئے نوم دے، په صحافت کښې ديانتداره او بې باکه صحافي ؤ، بې مخه نقاد ؤ، مطلب دا چې د ادب په هر صنف کښې ئې د معيار يو مثال ئې قائم کړے دے. دغسې کهٔ قلندر صېب يو اړخ ته يو پُرګو او پُر اثره جديد نظم ګو دے نو دغه هومره ښهٔ غزلګو بلکې د غزل "استاذ" هم دے. دا يوه شاعرانه مبالغه نهٔ ده، د "سباوون" هغه غزلې دي چې د لوستو نه پس قلندر صېب ته د جديد غزل استاذ وئيلو کښې څهٔ شک نهٔ پاتې کېږي. د سباوون نه بهر هم د قلندر صېب ډېر نظمونه او غزلې شاهکار حېثيت لري او د معيار او تغزل ښائسته نمونې دي.



په عامه توګه مونږ اورېدلي او لوستلي دي چې ښهٔ نظم ګو ښهٔ غزل ګو نهٔ وي، يا ښهٔ غزل ګو ښهٔ نظم ګو نهٔ وي. د قلندر صېب په حقله لکه چې ووئيلے شول د ادب په هر صنف کښې خپل معيار په ځائے ساتلے دے او يو نوم او حېثيت ئې پکښې پيدا کړے دے. د قلندر صېب داسې يو غزل به نهٔ وي چې سرے ئې ولولي او دوه درې شعرونه پکښې ورته ياد نهٔ شي، دغسې د هغهٔ د غزلو ډېر شعرونه په خلقو کښې مقبول شوي دي.

دلته صرف د قلندر صېب د غزلو ذکر د مزاحمت په حواله کول دي او نور رنګونه نظر انداز کول دي خو دا ذکر هم کول دي چې قلندر صېب د خپلو نظمونو او غزلو په رڼا کښې اولسي فنکار ولې دے؟ او د هغوي په شاعرۍ کښې اولسي درد ولې دے؟ د هغهٔ په شاعرۍ کښې د هغهٔ د ژوند او زمانې ژړا ولې ده؟

په ۱۹۳۶ کښې اردو ادب کښې يو تحريک "ترقي پسند تحريک" په نوم شروع شو. د دغه تحريک بنيادي مقصد عوامي ادب پېدا کول وو او اولس ته د هغوي مسئلې او د هغوي د حقوقو د تحفظ احساس ورکول وو او د دغه حقونو په حصول کښې د دوي مرسته کول وو. دغه تحريک په نورو ژبو هم خپل اثرات خوارهٔ کړل. پښتو ادب هم د دغه تحريک نه متاثره شو او پښتو ادب کښې هم په دغه نوم تنظيمونه جوړ شو، د دغه تحريک يو مبلغ صنوبر حسين کاکاجي ؤ.

په دې حقله محترم سليم راز صېب ليکي:

"قلندر مومند چې په کومه ادبي فضا کښې سترګې پرانستلې په هغه فضا د پښتو د جديد ادب

د معمار او د ترقي پسند ادب سرخېل "کاکاجي صنوبر حسېن مومند" فکر خور ؤ. قلندر په دغه مزاحمتي فکري فضا کښې ساه واخسته او خپل تحقيقي شعور ته ئې د ژوند ښکلا وبخښله".

د قلندر صېب مزاحمتي فکري رويه د وخت حاکمانو د پاره ناسُور ثابته شوه او د هغهٔ دغه باغيانه او انقلابي شعرونو (غزلونو) او نظمونو څو څو ځله هغه عقوبت خانو او قلعو ته رسولے ؤ، ترقي پسندو پسې خفيه پوليسو خپل نظرونه تېز کړي وو او وخت په وخت وتونکي ترقي پسندي مجلې هم ضبط شوې وې او ترقي پسند اديبان، شاعران گرفتار او قېد وو.

د قلندر مومند صېب د يو غزل دا شعر:

د رڼا ناوې دغه تولې قصې
ماسره ستا د مينې تور کښې وشوې

هم د پورتنو حالاتو يو مکمل تفسير دے، دا غزل شاهي قلعه لاهور کښې ليکلے شوے دے. لکه چې ووئيلے شول د دومره تکليفونو برداشت کولو نه پس هم د خپلې لارې، عقيدې او نظريې اوړېدلے نهٔ دے او په خپل مؤقف ټينګ ولاړ دے.

خپله وينه به له خپلې خاورې ځار کړم
حسېني يم خاک پا د بو تراب يم

له دې سره سره د هغهٔ حوصله او جذبه او د قربانۍ ورکولو اراده څومره مضبوطه، کلکه، پُرخلوصه او ښکاره ده:

گلستان کهٔ مې په وينو تازه کېږي
هر ازغے دې هم زما په زړهٔ کښې مات شي

د قلندر صېب مزاحمتي انداز هم منفرد او په فنکارانه ډول دے او هغهٔ چرته او څهٔ ځائے کښې هم خپل غزل نه د سياسي پارټۍ منشور نهٔ دے جوړ کړے او نهٔ ئې شعر د سطحي لهجې د شاعرانو په شان دے. فني تقاضې ئې هم پوره کړې دي او خپل مقصد ئې په فني طريقه او په ښه سليقه وړاندې کړے دے. چرته چرته ئې په شعر روماني فضا خوره ده او غنائيت پکښې هم ډېر دے او د علامتونو استعمال هم په داسې انداز شوے دے چې حُسن هم لري او د پوهې نه بهر هم نهٔ دي او د دغه علامتونو اصلي معنې نورې دي، خو دلته ترې مراد نورې دي. شعري صنعتونه او په انداز کښې خوږوالے ئې هم منفرد دے. لکه:

د رڼا ناوې دغه تولې قصې
ماسره ستا د مينې تور کښې وشوې

په شعر روماني فضا خوره ده، د "رڼا" سره په بله مصرعه کښې "تور" څومره ښکلې شعري تلازمه ده او هم دغه د رڼا ناوې او د مينې تور علامتونه دي او دغه مجرد علامتونه دي. د رڼا ناوې د مستقبل د روښانوالي، د ښائسته ژوند او ظلم نه د خلاصون قصه بيانوي او د شاعر عقيده او نظريه ترې هم څرګندېږي. د مينې تور، د دغه لارې سره وفادارۍ او جان نثارۍ او تکليفونو ذکر دے. خو د قلندر صېب د شاعرۍ کمال دا هم دے چې د دغه سختو ذکر کوي خو قنوطيت پکښې نهٔ وي يو پوخ رجائيت وي پکښې او د کومو عواملو او عناصرو ذکر چې کوي نو ښهٔ تنقيحي طريقې سره ئې کوي.

په دې توره درنه شپه کښې ما څراغ د وينو بل کړو
د امېد په رڼو ستوريو زما ذهن افلاکي دے

او دغه توره او درنه شپه د ظلمت ده. د بې انصافئ ده، د ظلم ده، د فرعونيت ده خو د قلندر صېب په سحر کېدو باندې پوخ يقين دے او دغه ستوري ئې امېدونه دي.

ستوريو ستاسو به هم زړۀ وچوي کۀ خبر وي
زۀ د داسې يو سحر په انتظار يم
رڼائي ئې په تيارو کښې يو په دوه شي
زۀ د ياس په تروږميو کښې کهکشان يم

هم دغسې هغۀ د هاغه رهبرانو غندنه هم کړې ده چې د ميرکاروان په جامه کښې ئې خپله قافله په خپله لوټ کړې ده او دغه لوټ ماري دوي په مختلفو طريقو او مختلفو وختونو کښې کړې ده، هغه لوټ ماري کۀ د مذهب په نوم ده او کۀ د اسلام، پاکستان، پښتون او اولس په نوم ده. قلندر د هغوي مزاحمت د دغه مغل خپلو مزاحمت لکه د خوشحال غوندې په يو سر کړے دے:

چې په هره لاره لوټ کړو رهبرانو
پس له دې مو رهروانو کومه لار ده
قلندر لکه خوشحال مغل ته مخ دے
حوصله ئې په تکيه د کردګار ده

په دغه لاره کۀ قلندر صېب هر څومره مشکلاتو سره مخ شوے دے او هر څومره اذيتونه ئې برداشت کړي دي خو پښېمانه شوے هېڅرې هم نۀ دے او نۀ د خپل فکر و نظر نه په شا شوے دے، هغه خو په دې لاره په سفر کولو فخر کړے دے،لکه چې وائي:

چې د کوټ او زولنو ياد مې تازه کړو
زۀ د دې دور هجري يا خوشحال خان يم

د مزاحمت منصب دا هم دے چې د رجعت پسندانه قدرونو مخ نيوے وکړي، د مارکس د ژوند متعلق د جدلياتي نظريې د اثر لاندې شاعرئ او ادب يو نوے تصور راوزېږوۀ، د شاعرئ مارکسي نظريې مطابق فنکار د ژوند جدلياتي طاقتونه په ګوته کوي او د ترقي پذيرو قدرونو زېږونه کوي او د خپلې شاعرئ يا نثر په وسيله د چاپېرچل افاديت ښکاره کوي. د مارکسي نقطۀ نظر لاندې يورپ او ايشيا کښې چې کومه شاعري تخليق شوه هغې کښې د ژوند بهرنے اړخ نمايان ؤ. قلندر يو حقيقت پسند ليکونکے دے او بيا چرته چرته د هغوي د مزاحمت نشه هم د کتو ده:

نن د قلندر چې د نمرود سره تکرار دے
خود د براهيم په شانې خوښ په سور انګار دے
د حالاتو دا ترشي به قلندر له هوش ور نۀ کړي
دا خمار ئې پخوانے دے دا نشه ئې ديرينه د ه

قلندر صېب د ژوند په هره مسئله او موضوع ژور نظر لري او ليک ئې پرې کړے دے.

ولې د هغوي نظمونه خو ټول يا ډېره حصه مزاحمتي ده، ولې غزل کښې ئې هم دغه سرمايه ډېره ده.

چې ژوندون زهر شي عوامو لره
په داسې حال کښې خو به سم ليکمه
زمونږ په برخه هغه وربځې چې ازغي لويوي
هغه چې ګل ټوکوي هغه په چا وورېدې

په درېم شعر کښې ازغي لويوي هم علامت دے او په بله مصرعه کښې ګل ټوکوي هم علامت دے. دا د غم او خوشحالۍ علامتونه دي او هم دغه علامتي مزاحمت دے چې زمونږ په نصيب کښې تکليفونه او غمونه دي او خوشحالياني راحتونه د نورو دي.

قلندر مومند خپل د مزاحمتي رويې له مخه په خپلو شعرونو کښې ثابت قدم ښکاري. هغۀ د حقيقتونو اظهار په ډېره ښه طريقه کړے دے او هېڅ د تعصب نه ئې کار نۀ دے اخستے او نۀ ئې بې ځايه مبالغه ارائي کړې ده او ژوندي خيالات ئې پېش کړي دي چې په حقيقت اړانه دي.

چې ګلشن کښې د اغزيو حکمراني شوه
ډېره ګرانه د ګلونو باغواني شوه

يو يو تار د زلفو دي زما په زړۀ وربږي چې
بيا رانازل شوے پښتونخوا باندې ناتار دے

دا د حسن مملکت کښې کوم نمرود دے پېدا شوے
چې د زړونو کلي وران شو اور شو پورې په ښارونو

د قلندر مومند قلم د مزاحمت په حواله په يوه موقع او ګرانو حالاتو کښې هم نۀ پخ شوے او نۀ د مصلحت ښکار شوے دے. خصوصاً مارشل لائي دورونو کښې، هغوي خپل مزاحمت په علامت ښائسته کړے دے او خپل فکر و نظر ئې نورو ته رسولے او حاکمانو ته ئې نشر کړے دے. تور ايوبي دور کښې چې ډکټېټر ايوب د پښتو ټول لټرېچر بند کړے ؤ او ترقي پسند ئې جېلونو ته رسولي وو نو د قلندر صېب دا غږ او سوخت چې حمزه صېب او ځينې نورو ترې شک خوړلے دے.

ياره "قلندر" ته دعاګانې کړه
اوس ګنې پښتو کښې غزل چرته دے

دلته قلندر صېب وخت او د حالاتو جبر ته اشاره کوي او خپل د مزاحمت او د اولس او ترقي پسندو بې حسۍ ته اواز کوي. د حمزه بابا يا د نورو مقابله او تعلي نۀ کوي:

چې بانهٔ ئې په ما نۀ بلوڅي حېران يم
پښتانۀ دي خدايه څۀ رنګه بې زړۀ کړۀ

پښتانۀ په نفسياتي توګه مزاحمت پسند دي دغه مزاحمت کۀ په ادبي سطح دے او کۀ په قومي، علاقائي، سياسي او د جنګ جدل په محاذونو دے. پښتون تر خپله وسه مزاحمت کوي او بيا دغه مزاحمت د نړۍ د نورو قامونو په مقابله کښې



مثالي او تاريخي هم دے. دغه مزاحمت وقتي نۀ دے، ترڅو چې آخري څاڅکے وينه په وجود کښې لري مزاحمت به کوي، په اسانه وسله نۀ غورځوي، بېرغ هسک ګرځوي. قلندر هم پښتون دے، د ے دې حقيقت ته داسې اشاره کوي:

کۀ د زړۀ بېرغ مې پرېوتو پښتون يم
ګمان مۀ کړه چې رقيب ته به وسله ږدم

او دا هغه نفسياتي عوامل دي چې پښتانۀ ئې خپل ضمير، قام، وطن او د تاريخ په پاڼو کښې سرخرو، سربلا او ژوندي ساتل دي. ګني د پښتون د تباهئ، بربادئ، پستئ او جهالت کښې ساتلو دپاره کوم کوم سازشونه کوششونه نۀ دي شوي، تر اوسه د خپلې ژبې د لوستلو نه لرې دے، تر اوسه ځان ته د نوم شناخت نۀ لري او دغسې د هغوي جمهوري ، اخلاقي، سياسي، جغرافيائي حقونه غصب شوي دي او دغه سازشونه ما په ما وژني، قاتلانو او کافرانو هنرمندانو وخت په وخت کړي دي.

وژنې مې بې ځايه خو قاتل نۀ دے
ورک شو مه تالا شو مه غل چرته دے

محترم اسماعيل ګوهر زما د يو ليک ځواب کښې د قلندر صېب د مزاحمت په حقله ليکي "قلندر مومند د عزم او يقين شاعر او دانشور دے، د خپل اولس د بې وسئ، خوارئ او بدحالئ قيصه کوي خو د ياسيت ښکار شوے نۀ دے.

هغه جبري قوتونو ته لکه د غر ولاړ دے، عزم ئې لکه د حالاتو په غرمو سوي سټکوري خو فولادي چټانونه دي خو دغه چټانونه خپله لمن کښې د امېد ګلونه هم سپړي، جذبه ئې د ابشار غوندې غړمبار کوي او احساس ئې په هر رنګه موسم کښې لکه د "نښتر" ښېرازه او تازه ولاړ دے. ډېر تاؤدۀ تاؤدۀ افکار ئې نظم کړي دي خو د فن د ښکلا او د فکر د رڼا ډېوې ئې د جذبې په طوفاني چپو کښې هم بلې ساتلې دي او ځکه د هغۀ مزاحمتي او انقلابي لهجه د شعري ادب يو کلاسيکي خوږوالے او د اثر پوخوالے لري.

هغه د خپل وخت د مروجه ترقي پسنده او قوم پرسته رويو اظهار د جذبې او عزم د شدت سره کوي خو دا د تقليد په ځائے د هغۀ د ژوند د تجربو اظهار دے، هغه د سرمايه دارئ جاګيردارئ او د جبر خوفناک صورتونه نۀ يوائې د نژدې نه ليدلي او محسوس کړي دي بلکې زغملي ئې هم دي.

هغه د تهذيبونو او تاريخونو په پس منظر کښې د جبر خلاف (هغه سماجي وي او کۀ رياستي) د مقهور او مجبور اولس ترجماني کوي:

څۀ ئې راته ستائې په ما خپل وطن کشمير دے
بې له پښتونخوا مې په بل خوا نۀ شي وتنه
زۀ د ګل چين په بدو سترګو کښې ازغے ولې يم؟
خو بس په دې کنه چې خبر د بهارونو غواړم

د قلندر مومند د نګارشاتو خصوصيت د دومره وخت تېرېدو باوجود او په راتلونکي وخت کښې به نور هم واضح او نمايان وي. د دوي په کلام کښې د شروع نه د خپل وطن او خپلې خاورې خوشبوئي، د دې خاورې د رنګينو فضاګانو او په دې کښې د اوسېدونکو مظلومانو (خو د محنت کشو) سره د محبت او يووالي جذبه موجزنه ده، دغه عوامي محبت د اولسي ازادئ، خوشحالئ او د مساوات يو انقلابي کوشش او جدوجهد دے.

مزاحمتي رويه د پښتو د شاعرۍ د معلوم تاريخ په پاڼه پاڼه کښې ده، مزاحمت به تر هغه وخته جاري وي تر څو چې ظلم وي، جبر وي، بې انصافي وي، تر څو چې د حقوقو غصب کېدۀ وي، تر څو چې جاګيردارانه او سرمايه دارانه نظام وي، تر څو چې يوه مخصوصه طبقه په مراعاتو قابضه وي، تر څو چې محرومي وي او ترڅو چې د قلندر مومند غوندې شاعران په داسې حالاتو کښې ساه اخلي او ژوند کوي.